ماخذ تحقیقی مجلہ

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-18

OPEN ACCESS

CC BY NC

**نګینه بی بی**
لیکچرر پښتو څانګه عبدالولي خان پوهنتون مردان' خیبر پښتونخوا

# پهٔ پښتون تهذیب د ګندهارا تهذیب اثرات

**Nagina Bibi**
Department of Pashto, Abdul Wali Khan University Mardan.

***Corresponding Author:** nagina@awkum.edu.pk

# Impact of Gandhara Civilization on the Pashtoon Civilization

The word Gandhara was first used in Ragveed and next Ataroaveed. Greek historians have also used this word in their writing. Gandhara was situated in the foothills of Hindu Kush and Himalaya mountains and was an ideal place for both trade and cultural exchange. It has remained an old and famous civilization of this area. The Gandhara civilization flourished in the area now inhabited by the pashtoons and it plays an important part in shaping their identity. This article discusses the impact of Gandhara civilization on the current pashtoon civilization. Gandhara civilization has a footprint in the architecture like the construction of cupolas as well as the customs and religious rituals like the lightening of lanterns on the tombs of pious personalities by the pashtoons. Similarly, impact of Gandhara civilization on the other aspects of the pashtoons civilization was discussed and a significant influence was noted. The article concluded significant impact of Gandhara civilization on the way of construction, customs, rituals and lifestyle of the pashtoons.

**Key Words:** *Pashtun, civilization. Gandhara, culture*

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN(P): 2709-9636 | ISSN(O): 2709-9644
Volume 5, Issue 1, (Jan to March2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-18

وړاندي لـه دي نـه چي پـۀ ګندهارا خبره وۀ شي، د تهذيب يوه پيژندګلو لازمي ده ولي چي د وړاندي بحث دپاره خبره سپينه وي- لکه څنګه چي د هر لفظ يوه لغوي معني وي اؤ يوه اصطلاحي يا مجازي نو داسي دلته د تهذيب پۀ لغوي اؤ اصطلاحي معنو خبره کول به زيات مناسب وي- د لغوي معنو دپاره بايد چي د څو لغتونو نه استفاده وۀ شي نو بهتره به وي- ښاغلے مشتاق مجروح يوسفزے پۀ"تاج اللغات جامع" کښي ليکي:

"تهذيب: ښۀ اخلاق، سړيتوب،
شائستګي، انسانيت، د يوي
معاشري د ژوند تېرولو مروجي
لاري چاري، مادي ترقي-"[۱]

ميا بهادر شاه ظفر کاکاخېل پۀ خپل لغت "ظفراللغات" کښي د تهذيب دا معني کوي:

"تهذيب: شائستګي، اصلاح،
آراستګي، مجازا، اهليت،
لياقت، انسانيت-"[۲]

مولوي فېروزالدين د تهذيب دا معني کوي:

"تهذيب: (ع.ا.مث) اصلاح،
شائستګي، خوش اخلاقي-"[۳]

د جواهر اللغات مرتب ډاکټر محمد عبداللطيف ئي هم دغه رنګ معني کړي دي:

"تہذیب: شائستگی، خوش اخلاقی، پاک کرنا، اصلاح دینا۔"[۴]

دا خو وي د تهذيب لغوي معني اوس به لږ وضاحت سره د دي پۀ اصطلاحي اړخ هم خبره کوو چي پۀ اصطلاح کښي د تهذيب نه څۀ مراد دے- قېصر اپريدي پۀ "تهذيب: څېړنه اؤ کره کتنه" کښي د ويکي پېډيا پۀ حواله د تهذيب تعريف څۀ دا رنګ بيانوي:

"يوه ټولنيزه يا تهذيبي
ډله چي پۀ يۀ ځائي کښي د
کروندي د ضرورت دپاره ژوند

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-18

ماخذ تحقیقی مجلہ

تېروي او د هغوي په دغه ژوند کښې هغه ټولې شعبې (څانګې) شاملې وي چې په يوه ټوله کښې ئې په عامه توګه شتون په کار وي، تهذيب (Civilization) د دې ډلې ميراث ته وائي-" (۵)

خو په نن دور کښې دا لازمي نه ده چې محض د کروندې د ضرورت دپاره يو ځائي ژوند تېروي بلکې د هر قسمه اجتماعي ضرورت تر مخه چې شريک ژوند تېروي او د ژوند تېرولو يو خپل اخلاقي او سماجي نظام لري هم دغه اقداري نظام ته تهذيب وئيلے شي- په دې مد کښې د سبط حسن دا تعريف ډېر جامع دے ليکي چې:

"کسی معاشرے کی بامقصد تخلیقات اور سماجی اقدار کے نظام کو تہذیب کہتے ہیں۔" (۶)

ترجمه: د يوې معاشرې د بامقصده تخليقاتو او ټولنيزو قدرونو نظام ته تهذيب وائي-
خو سوال دا پېدا کېږي چې ايا په ثقافت (Culture) او تهذيب (Civilization) کښې څه بنيادي فرق دے او که نه دواړه يو دي؟ نو په دې حقله شاه نظر بېنوا په خپل کتاب "تلې پېړونه" کښې د تهذيب او ثقافت په توپير خبره کوي ليکي چې:

"----- ماهران وائي چې د ثقافت تهذيب يافته شکل ته تهذيب وائي، يعنې کله چې يو ثقافت ترقي وکړي نو هغه تهذيب شي- ثقافت مقامي څيز دے او تهذيب په لويه پېمانه وي-" (۷)

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-18
ماخذ تحقیقی مجلہ

یعني په نورو لفظونو کښې مونږ داسې وئيلې شو چې د تهذيب مثال د يؤ لېنګ وي اؤ مختلف ثقافتونه د هغه لېنګ د پېرول حېثيت لري- هم دا رنګ کله د يؤ ثقافت د وسعت په نتيجه کښې هغه د تهذيب شکل اختيار کړي چې هغه په خپل ځان کښې دننه واړهٔ واړهٔ علاقائي ثقافتونه لري خو د هغو ثقافتونو په شا د تهذيب يؤ لېنګ موجود وي-

د تهذيب د دې مختصر لغوي اؤ اصطلاحي تعارف نه پس بايد چې د ګندهارا د دوؤ لفظونو"ګند" اؤ "هارا" نه جوړ دے چې دواړه د سنسکرت ژبې لفظونه دي اؤ د ګند مطلب دے خوشبو اؤ د هارا مطلب دے علاقه يا ځائې نو د ګندهارا مطلب شهٔ د خوشبو علاقه يا خوشبوداره ځائې- د ډاکټر سهېل د وېنا ترمخه:

> "ګندهارا لفظ پهٔ اول وار
> رګ وېد کښې استعمال شوے اؤ
> دويم وار آتاروېد کښې- زړو
> يوناني مورخينو هيروډوټس،
> هکاتايوس، ټولمبي اؤ ستړابو
> هم ګندهارا لفظ استعمال
> کړے-" (۸)

ګندهارا د کوه هندوکش اؤ کوه هماليې پهٔ لمنه کښې غريزه سلسله وه چې د هند اؤ وسطي ايشيا تر مينځه راغي ځکه نو کهٔ يوه خوا د ثقافتي تبادلې دپاره موزونه علاقه وه نو بله خوا د تجارتي تبادلې دپاره هم- دا علاقه د ابو اؤ ځنګلونوپهٔ قدرتي دولت مالا مال وه اؤ د کرکروندې دپاره ئې هم مناسبې زمکې لرلې- د درياے سندهــ مغرب اړخ ته درياے کابل سره د پېښور پهٔ ۲۵۰۰ مربع کلوميټره رقبه باندې خوره علاقه وه- د ګندهارا د جغرافيې پهٔ حقله ډاکټر سهېل ليکي چې:

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-18
ماخذ تحقیقی مجلّہ

"گندھارا کے جغرافیہ میں سوات، ملاکنڈ، بونیر، مہمند، پشاور، چارسدہ،
مردان، صوابی کے علاوہ دریائے سندھ کے مغربی اضلاع ٹیکسلا
(راولپنڈی)، ہری پور، ایبٹ آباد، مانسہرہ، بٹگرام شامل ہے۔" (۹)

ترجمه: د ګندهارا په جغرافيه کښې سوات، ملاکنډ، بونېر، مهمند، پشاور، چارسده، مردان، صوابی نه علاوه د دریائے سندھ مغربي ضلعې ټيکسلا (راولپنډي)، هري پور، ايبټ اباد، مانسهره، بټګرام شامل دي۔

ګندهارا د دې خاورې يو زوړ او سپېڅلے تهذيب پاتې شوے دے۔ دا علاقه چې پښتانه په کښې مېشته دي، د ګندهارا تهذيب مرکز پاتې شوے۔ د دې تهذيب ټول اثار هم دلته دي او د تهذيب په تاريخ کښې د دنيا په مخ د پښتنو د فخر سرمايه ګڼلې شي۔ دغه ګندهارا اصل کښې زمونږ زوړ تاريخ دے چې زمونږ د شناخت د مسئلې په هوارې کښې هم بنيادي اهميت لري۔ کۀ د دنيا مهذب قامونه ئې عزت کوي نو په دې چې دا يو د امن ضامن تهذيب پاتے شوے۔ پښتانه کۀ د تهذيب په تاريخ کښې دومره لويه او د ځانګړي اهميت برخه لري نو د دې قام د تفخر او وياړ بنيادونه پرې هغه هومره مضبوط او پاخۀ دي لکه څومره چې دغه تهذيب مضبوط دے۔ دلته يو بل مهم سوال دا دے چې ايا د ګندهارا ابتدا کله نه شوې ده نو د پوهانو په دې اتفاق دے چې د ګندهارا ابتدا شپږ سوه قبل مسيح نه شوې ده۔ دې مد کښې ډاکټر بدالحکيم حکيم زے ليکي چې:

"په ۶۰۰ قبل مسيح کښې د
ګندهارا تهذيب زنے وۀ
ټوکېدۀ ------- د زرتشت په
زمانه کښې دې ځائې ډېر
ارزښت ترلاسه کړو۔ وائي چې د
زردشت مذهب غټ دېوتا اهورا

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-18
ماخذ تحقیقی مجلہ

مزدا په بنو کښې پېدا شوے
وۀ- په ۵۱۶ قبل مسیح کښې
هخامنشي بادشاه دارایوش لۀ
ایران نه په دې ځائې حکومت
کاوۀ اؤ د هغۀ لۀ خوا ستراب
د گندهارا گورنر وۀ- پشکلاوتي
یعني چارسده اؤ بنو ئې غټ
ښارونه وو- د هخامنشي دوره
درې سوه کاله اوږده وه ----
--۳۳۶ قبل مسیح کښې د یونان
سکندر اعظم دلته راغے -----
- ټوله پښتونخوا د یونان په
قبضه کښې دوه سوه کاله پاتې
شوې ده- دې دورې ته هندو
گریک دور وائي- د هندوستان
لۀ خوا په یوناني بادشاه
سېلوکس باندې موریه خاندان
حمله وکړه-------- وروستے
بادشاه ئې اشوکا وۀ چې په
۲۲۷ قبل مسیح کښې مړ شو-"(۱۰)

دې نه پس هم بلها خلقو په گندهارا حکومتونه کړي چې هغې کښې ساکا، پارتین، سیتین، کوشانیان، ایرانیان، سپین شامل دي- د گندهارا خاتمه ۶۰۰ بعد مسیح کښې وۀ شوه- د گندهارا تهذیب اثرات چې په اوسني پښتون تهذیب گورو نو تر ټولو وړاندې د بنده مخې ته د دې سیمې د مزاراتو گنبدونه مخې ته شي هسې خو دا روایت په ترکې اؤ کلهم هند کښې شته خو دا بنیادي طور د گندهارا تهذیب د ستوپا په حقله شاه نظر بېنوا لیکي چې:

"زیاتې خزانې د بدھ مت د
مذهبي ابادو یا گنبدونو یا
کۀ ورته مونږ بدھ مت
پوهنتون وۀ وایو نو بې ځایه

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-18
ماخذ تحقیقی مجلہ

به نۀ وي- دي ګنبدونو ته د اثار قديمه پوهان Stupa وائي- دغه ګنبد يا ستوپا د بوسو د بوسارۍ پۀ رنګ دي- دا چې څومره دنګه وي هومره لويه وي- پۀ مينځ کښې ئې د ګوتم بدهـ مقدسه ايره د ګټې پۀ کنډولي کښې پرته وي څۀ د دنيا ګټې لوټې اؤ چاپېره ترې يؤ اژدها د ديوال د دے ګنبد زينت وي- ګېر چاپېره ترې د طواف سړک وي چې پۀ هغه وخت به ئې پۀ مذهبي دودونو، دستورونو کښې اوچت کردار ادا کولو- د ستوپا يا ګنبدونو د پاسه د مېچنې د پل پۀ شکل د پينځو نه تر لسو پورې د ګټې يوه ستن کښې پېئلي شوې چهترى شکارې اوس دغه پاسنى چهترى راپرېوتې دي-“(۱۱)

نن دور کښې د پښتو پۀ تهذيب کښې د زيرګانو پۀ مزارونو ګنبدونو کښې مختلف قسمه رسمونه رواجونه کۀ وۀ ګورو نو شکاره د ګندهارا تهذيب اثرات معلومېږي- د مثال پۀ طور د مزارونو نه علاوه پۀ جوماتونو هم د ګنبد شکلونه جوړول يا مزارونو کښې ډيوې بلول يا لکه مزاراتو ته تلل يؤ مقدس عمل ګڼل وغېره- مونږ سره مشهور زيارتونه د پيربابا، کاکا صاحب، اخوند پنجو وغېره دي- پۀ دغه مد کښې ډيوې بلول هم د ياد وړ رسم دے اګر چې پخوا به د رڼا پۀ غرض بلولې شوې خو نن جديد دور کښې کۀ د رڼا نورې ذريعې هم شته خو مزاراتو کښې ډيوې بلول يؤ قسم له د تقدس عمل جوړ شوے- د

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-18



ګندهارا تهذیب دننه زیات تره مقدس کړي شوي عملونه د بدهـ مت سره تعلق لري نو دغسي د ډیوي خبره هم ده یو ځل په مجلس کښي بدها خپلو مریدانو ته د ډیوې په مثال سره د خپلي خبرې وضاحت کوي- دغسي کله د سپیني ږیرې مثال ورکوي او د خپلي خبرې وضاحت کوي غرض دا چې د دا د هغه قسمه مثالونو سره د خپلې خبرې وضاحت کوي کوم نه چې د هغه دور د تهذیب اندازه کیږي- ځکه چې د فصاحت تقاضه دا ده چې خبره دې د امروزې او مکاني مادیت مطابق وي نو اوس هم پښتنو کښي د سپیني ږیرې ډیر قدر او عزت کیږي او دغسي ډیوه بلول هم د مزاراتو یو رسم دے- موسیقي د پښتنو د تهذیب یو اهم او بنیادي جز دے ځکه خو پښتنو همېشه خپلي حجرې او ښادی په ټنګ ټکور ښکلي کړي-

> "د کاشان نه یو مرید تپوس
> وکړ چې د بدهـ اصل
> تعلیمات څه شے دے؟ کاشان
> جواب ورکړ چې ډول غړول،
> دغسي وړاندې مرید د بدها په
> حقله مختلف تپوسونه کوي او
> کاشان ورته جواب کښي وائي
> ډول غړول-"(۱۲)

د پښتنو د څادر په سرولو چې کوم روایت دے دا هم د ګوتم بدهـ د هغه شال سره سمون خوري کوم چې به هغه په سرولو- پښتانه چونکې د اسلام نه وړاندې د ګندهارا دور کښې په بدهـ مت ولاړ وو یعني د دوي مذهب بدهـ مت وه ځکه نو د ګوتم بدهـ د شال راتاوولو روایت دوي ژوندے ساتلے دے او تر ننه څادر د پښتون تهذیب یو اهم توکے دے- د رسم و رواج په حقله بې شماره مثالونه شته چې دلته ترې څو ذکر کولې شي-

عقیقه:

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-18

ماخذ تحقیقی مجلہ

دا یؤ زوړ پخوانے رسم دے چې د ګندهارا تهذیب د وخت نه مونږ ته پاتے دے خو وړاندې به داسې وو چې یؤ ماشوم به د یؤ کال یا درې کالو شو نو د هغهٔ د عقیقې جشن به ئې مناوولو خو د اسلام د اثر لاندې اوس دغه شکل لږ بدل شوے پهٔ اوومه، پینځلسمه، یا یویشتمه ورځ عقیقه کولې شي-

کوېدن یا کوژدن:

دا هم یؤ زوړ رسم دے اؤ نن سبا هم پښتنو کښې عام دے- د وادهٔ نه وړاندې د جینۍ اؤ هلک یؤ بل ته پهٔ نوم کولو نه پس چې کوم جشن اؤ خوشحالي مناوېږي هغې ته کوېدن وائي- چې د ګندهارا تهذیب څخه راپاتې یؤ رسم دے چې نن سبا هم بالکل عام دے-

ډولۍ:

د وادهٔ پهٔ موقع چې د هلک کور والا د ناوې پسې د جنج پهٔ شکل کښې لاړ شي اؤ ناوې راولي هغې ته ډولۍ وائي- دا هم د ګندهارا تهذیب څخه راپاتې یؤ رسم دے چې نن سبا هم بالکل عام دے-

دهنګانا:

دا رسم هم د ګندهارا تهذیب باقیاتو کښې دے چې هندو مت هم خپل کړے اؤ پښتنو کښې هم تر ډېره حده عام دے- د وادهٔ هلک چې ډولۍ پسې لاړ شي نو د سخر کور ته دننه کېدو وخت کښې د ناوې قریبي رشته دار د وادهٔ د هلک نه نغدې غواړي نو هله ئې پرېږدي بیا د وادهٔ هلک حسب استطاعت رقم ورکړي اؤ لاړ شي-

د ګندهارا آرټ پهٔ حقله سبط حسن لیکي چې:

”جس چیز کو آج کل گندہارا آرٹ کا نام دیا جاتا ہے وہ دراصل آرین، یونانی، ساکا، پارتھی، اور کشن تہذیبوں کا نچوڑ ہے۔ گندہارا کو ہماری تہذیب میں بہت اہم مقام حاصل ہے۔“ (۱۳)

ترجمه: کوم څهٔ ته چې نن سبا مونږ ګندهارا آرټ وایو دا اصل کښې د آرین، یوناني، ساکا،

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-18



پارتهي، اؤ کشن تهذيبونو نچوړ دے- ګندهارا ته زمونږ په تهذيب کښې ډېر اهم مقام حاصل دے-

د ګندهارا آرټ نمونې د بدهـ مت د مختلفو مجسمو اؤ نقاشو کښې موندې شي- ځکه چې د دې آرټ مېلان بدهـ مت ته وۀ- نورو مذاهبو سره ئې څۀ ترون نۀ ښکاري- د دې آرټ صرف يؤ مقصد وۀ اؤ هغه دا چې بدهـ مت دې خور اؤ مضبوط شي- هم دغه اثر د نن دور په پښتون تهذيب ښکاره معلومېږي ځکه چې دوي کۀ يوه خوا د فن عمارت پۀ لړ کښې پۀ کورونو ښۀ خواري کوي نو بل خوا جوماتونو کښې د مذهبي پرچار دپاره نقش و نګار هم بې شانه کوي- د جومات پۀ دېوالونو مختلف اقوال، احاديث، قراني اياتونه وغېره ليکي يعنې د آرټ پۀ ذريعه مذهبي پرچار کوي-

د يؤ تهذيب د روحيې د معلومولو دپاره د هغه تهذيب جمالياتي اؤ فني اپروچ ډېر اهم څيز دے- د پښتون د اوسني تهذيب دننه د فن اؤ هنر سره سره د جمالياتو يؤ مضبوط اپروچ اؤ ژوند کښې د هغې عمل دخل موجود دے- د دې وجه د ګندهارا تهذيب هغه آرټ دے کوم چې د اثار قديمه پۀ ذريعه مونږ ته معلوم شوے- د دغو قديمو اثارو نه دلته د يؤ څو ذکر کولې شي-

د تخت بائی کنډرات:

د تخت بائی کنډرات د بدهـ مت د عبادت ګاهونو پۀ طور د تاريخ برخه ده چې د ګندهارا تهذيب پۀ پاتې اثارو کښې اساسي حېثيت لري- دا کنډرې د تخت بائی، مردان د غرۀ د پاسه موجودې دي چې ټوله رقبه ئې ۷۸۶ کناله ده- د بدهـ مت د تعليماتو تر مخه دا عبادت ګاهونه ځکه د ابادئ نه لرې جوړ کړې شوي وو چې د تزکيه نفس عمل پۀ ښه طريقه ترسره کولې شۀ- د تخت بائی د کنډرونو نه د ترلاسه شوې کتبې پۀ اړه د پېښور

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-18


پوهنتون د لرغون پوهنې د استاذ ډاکټر نعيم قاضي وينا ده چې:

”د تخت بائی په کنډرو کښې
چې کومه کتبه په لاس راغلې
هغه د عيسي عليه السلام له
پېداوښت نه ۱۰۰ کاله مخکښې
زمانه په ګوته کوي- مونږ ته
د کاني يوه کتبه په لاس
راغلې چې په خروشتي ليک
باندې ليکلې شوې - د
ګونډوفرېز چې د ګندهارا يؤ
ډېر مشهور باچا وۀ، د دور
حوالې په کښې شته، د دې نه
دا پته لګي چې د تخت بائی د
کنډرو ودانی د ګونډو فريز
باچا په وخت کښې په لومړي
ځل جوړې شوې-“(۱۴)

دا کنډرات د ګندهارا تهذيب سره يؤ کلک تړون لري- هغه زمانه کښې چونکې هند د تجارت لوے مرکز وۀ نو چې قافلې به د وسطي ايشيا نه هند ته تلې نو په لاره به خلقو لوټ کولې ځکه نو دغه عبادت ځايونه په داسې مقام جوړ کړې شوي چې بالکل حفاظت کښې وو- دا کنډرات په يوه لاويه ستوپه، مناستې اؤ خلوت خانو مشتمل دي- لويه ستوپه ئې د ګندهارا طرز کښې جوړه ده چې دريو اړخو ته ئې ستېپرز جوړ دي- ډاکټر نعيم قاضي وائي چې:

”په پېل کښې په کښې د
خوراک پخولو لپاره څۀ
انتظام نۀ وۀ شوے چې د بدهـ
مت مذهب چڼو به وظيفې
راټولولې-“(۱۵)

نن هم د پښتنو په سيمه د دوي په تهذيب کښې دا يوه عامه خبره ده چې د جومات يا مدرسې

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-18


طالبانو ته وظیفه ورکوي- واړهٔ چني کور پهٔ کور ګرځي اؤ وظیفه راټولوي-

شهبازګړه:

شهباز ګړه هند ته د تجارت دپاره د راتلونکیو قافلو د دمي ځائي وهٔ ځکه خو دا متل دے چې د سترو ځائي شهباز ګړه ده- دا د ګندهارا تهذیب پهٔ لړ کښي ډیر لوے اهمیت لري- ډاکټر خالد خان خټکي لیکي چې:

"لهٔ مېلادي پېړۍ نه دري سوه
کاله مخکښي اشوکا د شهباز
ګړي پهٔ یؤ ګټ باندي پهٔ
خروشتي ژبه د بدهــ مت پهٔ
حقله فرامین لیکلي چې د
لرګوني اثارو اداري محفوظ
کړي دي-"[۱۶]

دا هغه زمانه وه چې د اشوکا دور وهٔ اؤ پهٔ ټوله ګندهارا کښي بدهــ مت خور وهٔ نو د هګې یؤ تهذیبي اثر دا هم رامعلومېږي چې څهٔ رنګ هغه زمانه کښي ټولو پښتنو بدهــ مت پهٔ شریکه قبول کړے وهٔ- دغسي نن پښتون قام من حیث القوم اسلام قبول کړے یعني تهذیبي وحدت دوي ته د ګندهارا لهٔ وخته پاتې دے-

هنډ:

د پشکلاوتي یعني چارسدې اؤ پېښور نه وروستو د ګندهارا دارالخلافه هنډ پاتې شوې ده- دا د اباسین پهٔ غاړه اباده سیمه ده چې د هندوستان دروازه هم ورته وئیلي شي- پوهان وائي چې د سنسکرت لوے عالم اؤ ماهر لسانیات پانیني هم د دغه ځائي وهٔ- د هنډ پهٔ حقله دا هم مشهوره ده چې ګوتم بدهــ دغه ځائي ته د یؤ کب یا مهي پهٔ شکل راغلے وهٔ- اؤ دولس کاله ئې د دغه ځائي خلقو ته د خوراک بندوبست کړے - د

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-18
ماخذ تحقیقی مجلہ

سکندر اعظم دور کښې هم دا یؤ شکلے اؤ اباد ښار وۀ- چې هغۀ دلته ښکار هم کړے دے-

سوات:

سوات یا ځینې تاریخي کتابونو کښې ورته سواستو هم وئیلې شوي، د زړې ګندهارا اؤ اوسنی پښتونخوا یؤ شکلې سرسبزهاؤ غریزه علاقه ده چې د بدهـ مت یؤ لوے مرکز پاتے شوے- سکندر اعظم پۀ ۳۲۷ قبل مسیح کښې دا علاقه قبضه کړې وه اؤ بیا دغلته نه هند ته تلے وۀ- د سوات د تاریخي ارزښت پۀ بابله خالد خان لیکي چې:

"وئیلې کیږي چې چین اؤ تبت
ته بودېزم له دګه ځایه تللے
دے- پۀ مینګوره ښار کښې بت
کړه اؤ نور اثار، بریکوټ،
نجیګرام، اؤ اوډي ګرام کښې
د بدهـ مت اثار اؤ بیا د
ایلم د غر د پاسه د رام
چندر چې تخت مونږ ته د
ګندهارا اؤ هندو شاهي دور
رایادوي-"(۱۷)

چیني سېلانیانو د ګندهارا پۀ وخت کښې د دې سیمې سېل کړے اؤ دا ئې خپلو سفرنامو کښې د سواستو پۀ نوم یاد کړي- پۀ سوات کښې بیا خصوصي طور اوډیګرام کښې د بدهـ مت د وخت بتان د هغه وخت د مجسمه سازی غوره نمونې دي اؤ د ګندهارا تهذیب د آرټ یا جمالیاتي اړخ څرګندونه تري کیږي- دغسې بریکوټ د ګندهارا د علم و فن یؤ لوے ښار پاتے شوے-د یادو علاقو نه علاوه د عزیز ډېری کنډرونه، د ادینې قبرونه، اؤ د غر پۀ کانو لیکل یا د منکری هري پور زاړۀ اثار د ګندهارا تهذیب پاتې اثارو کښې د یاد وړ دي-

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-18
ماخذ تحقیقی مجلہ

حوالې

1. یوسفزے، مشتاق مجروح، تاج اللغات جامع. مخ ۱۶۷ ، چاپ کال نۀ لري، تاج کتب خانه قیصه خوانی پېښور.
2. کاکا، بهادر شاه ظفر، ظفراللغات، مخ ۴۶۲ ، پینځم چاپ ۲۰۱۶، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور.
3. فیروزالدین، مولوي، فیروزاللغات، مخ ۲۴۷، چاپ ۲۰۱۷، فیروز سنز لمیټډ لاهور.
4. عبدالطیف، مُحمَّد، ډاکټر، جواهر اللغات، مخ ۱۷۰، چاپ کال نۀ لري، کتابستان پبلشنگ ۳۸- اردو بازار لاهور-
5. قېصر اپریدے، تهذیب: څېړنه او کره کتنه، مخ ۱۲ اشاعت ۲۰۱۷، پښتو اکېډمي بلوچستان کوټه-
6. سبط حسن، پاکستان مېں تهذیب کا ارتقا، مخ ۱۷، اشاعت ۲۰۱۵، پاکستان پبلشنگ هاؤس، کراچي-
7. بېنوا، شاه نظر، تلي پېرونه، مخ ۱۷، اشاعت ۱۹۹۹، ملت ایجوکېشنل پرنټرز لاهور-
8. سهېل خان ډاکټر، تاریخ چارسده، مخ ۱۱، اشاعت ۲۰۲۲، مفکوره څېړنیز او پراختیائي مرکز پېښور-
9. هم دغه حواله، ،مخ ۱۲-
10. حکیم زے، بدالحکیم، ډاکټر، د پښتونخوا لنده مطالعه، مخونه ۸۰ او ۸۱، دوېم چاپ جنوري ۲۰۱۹، اعراف پرنټرز پېښور-

ISSN(**P**): 2709-9636 | ISSN(**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 1, (Jan to March2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-I)urdu-18

ماخذ تحقیقی مجلہ

11. بېنوا، شاه نظر، تلي پېرونه، مخ ۲۴، اشاعت ۱۹۹۹، متل ايجوکېشنل پرنټرز لاهور-
12. رابرټ وين ډي وئير، بدھ مت : تاريخ، عقائد، فلسفه، اردو ترجمه ملک اشفاق، مخ ۱۸۸، اشاعت ۲۰۰۹ بک هوم لاهور-
13. سبط حسن، پاکستان مين تهذيب کا ارتقا، مخ ۱۰۴، اشاعت ۲۰۱۵، پاکستان پبلشنګ هاؤس، کراچي-
14. خېشکي، خالد خان، ګندهارا، مخ ۹۹ اؤ ۱۰۰، اشاعت ۲۰۱۶، مشال رېډيو، عامر پرنټ اينډ پبلشرز پېښور-
15. خېشکي، خالد خان، ګندهارا، مخ۱۰۰، اشاعت ۲۰۱۶، مشال رېډيو، عامر پرنټ اينډ پبلشرز پېښور-
16. خېشکي، خالد خان، ګندهارا، مخ۱۰۵، اشاعت ۲۰۱۶، مشال رېډيو، عامر پرنټ اينډ پبلشرز پېښور-
17. خېشکي، خالد خان، ګندهارا، مخ۱۲۹، اشاعت ۲۰۱۶، مشال رېډيو، عامر پرنټ اينډ پبلشرز پېښور-